د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د طبیعي سرچینو د منجمنت په باب په هند کې د افغان پارلماني غړو غونډه

دهلی، هند، د ۱۳۹۶ کال د غویی د میاشتې ۲۷ نیټه – نن د افغانستان د استخراجی صنایعو د روښتوب د نوښت (AEITI) په مشری د طبیعي سرچینو د منجمنت په باب د ملي شورا د غړو درې ورځنی غونډه د هند د دهلي په ښار کې پایته رسیږي. د افغانستان د ملي شورا د طبیعي سرچینو د کمیټې ۱۳ تنو غړو او د اقتصادي کمیټې ۲ تنو استازو او همدراز ملي او نړیوالو کارپوهانو په نوموړې غونډه کې برخه اخیستې ده. هغو د افغانستان د استخراجي سکتور په ډګر کې د اداري فساد او غیرقانوني کان ایستنې د کچې د راټیټولو او همدراز د عوایدو د شفافو منځته راوړلو د سمون د لارو په باب خبرې اترې وکړې. د افغانستان په استخراجي سکتور کې د ښې حکومتوالی د ودې په نامه د افغان-المان د همکاری پروګرام دغه غونډه جوړې کړې وه.

د طبیعي سرچینو د کمیټې مشر او د ملي شورا غړي ښاغلي رمضان جمعه زاده داسې وویل: " دا چې د محصول او مالیې د نه ورکولو او د غیرقانوني کان ایستنې له امله دولت ته څومره زیان رسیږي ډیره زړه بوږنوونکې ده. " د یوې کورنۍ څیړنې له مخې ۲۵ کمپنۍ څه نا څه ۴ میلیارده افغانۍ د حکومت نه پوروړې دي. په دې هکله، د نوموړي نوښت د څوګټیزې ډلې غړي جاوید نوري څرګنده کړه چې "د هغو کمپنیو په اړه چې مالیه یا محصول نه ورکوي په لوړه کچه معافیت لیدل کیږي. " که څه هم په ډیرو حالاتو کې تړونونه زاړه شوي دي یا یې وخت ختم شوی دی او یا هم هیڅ شتون نلري، خو د کان ایستنې کارونه دوام لري.

د افغانستان د ملي شورا غړو ښاغلي رمضان جمعه زاده، ښاغلي رضا خوشک او میرمن ریحانه آزاد هم "د استخراجی سکتور د پیاوړی کولو او د دولت د عوایدو د زیاتلو په موخه د څوبعدي پالیسیو د طرحه کولو په اړینې "باندې ټینګار وکړ.

په افغانستان کې د اروپایي اتحادیې د پلاوي سیاسي سلاکار ښاغلي خالد همدرد ملي شورا غړو ته یادونه وکړه چې د کان ایستنې د پایښتونکي سکتور دپاره په هیواد کې امنیت ته سمون ورکول زښت زیات اهمیت لري: "د افغانستان د غیرقانوني کان ایستنې د اقتصاد چټکه وده په کلکه دوام لري. د طالبانو او د حکومت ضد نورو مخالفو ډلو د لاس لرلو له امله په ملي امنیت کې دا یو نیغ ګواښ دی ځکه دا کار د هیواد د لویو سیمو د بې ثباتۍ سبب ګرځي. سربیره پردې، دا کار به د حکومت د اصلاحاتو د اجندا په نسبت د خلکو باور ته زیان ورسوي او د افغان دولت ثبات به له ګواښ سره مخامخ کړي. "

د افغانستان د استخراجی صنایعو د روښتوب د نوښت د غونډې نه وروسته اوس د افغانستان د ملي شورا د طبیعي سرچینو کمیټه په لا ښه موقف کې ځای لري چې د کان ایستنې په باب اړونده مسئلو ته رسیدګی وکړي او اړونده وزارتونو ته ځواب ورکړي. د نوموړې کمیټې مشر اعلام وکړ چې د راتلونکي ګام په توګه به په کابل کې د اړینو اصلاحاتو په باب یوه څو ګټیزه لوړپوړي غونډه جوړه شي.

د افغانستان په استخراجي سکتور کې د المان د ښې حکومتداری د ودې پروژه د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) له خوا تمویلیږي. دغه پروژه د کانونو او پټرولیم وزارت ته ستراتیژیک ملاتر برابروي، د هغه سکتوري ریاستونه د ښې حکومتوالی د معیارونو پر بنا پیاوړي کوي او د افغانستان د استخراجي صنایعو د روښتوب د نوښت (AEITI) څخه ملاتر کوي له دې امله دا پروژه د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتیژۍ (ANDS)، د استخراجي صنایعو په عالي ملي پروګرام (NEIEP) او د افغانستان د سولې او ملي پراختیا په چوکاټ (ANPDF) کې ونډه اخلي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de